# د پاک بدن معجزې

**08-October-2022**

د اجتماعِ میلاد 1444ھ (8 اکتوبر 2022ء/دولسمې شپې) بیان

(For Islamic Brothers)



## د اجتماعِ میلاد 1444 ھ (8 اکتوبر 2022ء/دولسمې شپې) بیان

# د پاک بدن معجزې

**په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...**

- صحابۂ کرام علیہمُ الرِّضوان او د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَصَوُّر
- زمونږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر معجزه ده
- د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارک نازکوالے
- په لکونو کاله وروسته (کیدونکی واقعاتو) آوازونه ئې واوریدل
- د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سماعت(اوریدو) عجیبه شان

**پیشکش**

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا رَسُوۡلَ اللہ     وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡکَ یَا نَبِیَّ اللہ     وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصۡحٰبِکَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

فَقِهُ العصر (يعني د خپل وخت لوئي عالم) حضرت علّامه مفتي محمد امين صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ چا چې د درودِ پاک په فضيلت باندې د زمانې مشهور کتاب آبِ **کوثَر ليکلے** دے، هغوئي فرمائي: چې يو ځل د پيپلز کالونئ (فيصل آباد، پنجاب) نه يو سَيِّد صاحب د چا نوم چې سيد رياض وو، زما خوا له ئې تشريف راوړو او اوئې وئيل: زما کاروبار وو، ټول په ټپه اودريدو، اوس په ما په لکونو روپيۍ قرض دے، اوس ډير پريشانه يم، څه حل ئې راته اوښائييۍ!

مفتي امين صاحب رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي چې ما سَيِّد صاحب ته د درودِ پاک په فضيلت ليکلے کتاب **آبِ کوثَر** ورکړو او اومې وئيل: سَيِّد صاحب! تاسو دا کتاب اولولئ! او د دې مطابق عمل اوکړئ! د دې په برکت به ستاسو ډيرې مسئلې حل شي۔

سَيِّد صاحب کتاب واخستو او لاړلو بيا ئې تقريباً 6 مياشتې پس بيا تشريف راوړلو، دا ځل ډير خوشحاله وو، په مخ ئې د خوشحالئ آثار وو، سَيِّد صاحب ډير په خوشحالئ اووئيل چې په ما باندې 7 لاکهه روپيۍ قرض وې، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ! اوس صِرف يو نيم لاکهه پاتې دي۔

دا قرض څنګه خلاص شو؟ د دې په تفصيل بيانولو کښې ئې اوفرمائيل: داسې اوشول چې ما **آبِ کوثَر** اولوستلو، په دې کښې چې مې د درودِ پاک فضيلتونه اولوستل نو شوق مې پيدا شو او ما ښه په مينه او شوق باندې ډير زيات درودِ پاک لوستل شروع کړل۔ ديځوا هغه خلق د چا نه چې ما قرض اخستے وو، هغوئي زه تنګولم، يوه ورځ ما درودِ پاک اولوستل او د دُعا د پاره کښيناستم، څنګه چې مې د الله پاک په دربار کښې لاس اوچت کړل، د پريشانئ په وجه باندې زما زړه راډک شو، ما په ژړا ژړا د الله پاک په بارګاه کښې دُعا اوکړه۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د درودِ پاک برکت داسې ظاهر شو چې ما یوه ورځ ایمان تازه کوونکے خوب اولیدو، په خوب کښې څه ګورم چې زه چرته روان یم او یو ګس د سورې پشان زما سره سم روان دے، مزل مې کولو چې یو ځائے ته اورسیدم، ډیر فراخه او ښکلے ځائے وو، هلته یو ډیر ښائسته، نوراني مخ والا ګس تشریف فرما وو، مخې ته ئې قرآنِ پاک پرانستے پروت وو او هغوئي د قرآنِ مجید تلاوت کولو۔

څنګه چې زه هلته اورسیدم نو هغه بزرګ سترګې مبارکې راوچتې کړې او ډیر د مهربانۍ په نظر ئې اوکتل او بیا ئې تلاوت شروع کړو۔

هغه ګس کوم چې زما سره د سورې پشان یو ځائےروان وو، ما د هغه نه پوښتنه اوکړه: دا بزرګ څوک دے؟ هغه اووئیل: سَیِّد صاحب! دا هغه حبیبِ خُدا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے په چا چې تاسو درودِ پاک لولۍ بس دومره کرم شوے وو چې په دې کښې زما سترګې برسیره شوې۔

بس د هغه مالِک او مُختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغه یو نظر مبارک برکت دے چې ډیر زر زما تقریباً پینځه نیم لاکهه روپۍ قرض خلاص شو۔

مفتي امین صاحب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: چې هغه سَیِّد صاحب 2 هفتې پس بیا تشریف راوړو او اوئې وئیل چې اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! ماته بهترین ملازمت (نوکري) هم میلاؤ شوې ده۔ [1]

کیا خُداداد آپ کی اِمداد ہے | اِک نظر میں شاد ہر ناشاد ہے [2]

او سَیِّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هم څه ښکلے عرض کوي:

قِسمَت میں لاکھ پیچ ہوں، سَو بَل، ہزار کَج | یہ ساری گتھی اِک تری سیدھی نظر کی ہے [3]

**وضاحت**: یَا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! که په قسمت کښې مې څومره هم مشکلات او پریشانۍ لیکلې شوی وي، بس تاسو د خوند نه ډک او کرم یو سیدها نظر اوفرمائیۍ اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د قسمت ټول مشکلات به حل شي۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! درودِ پاک ناشنا نعمت دے، د دې په برکت باندې سختۍ حل

---

[1]... البرہان، صفحہ:321 -323بتغیر قلیل۔
[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:222۔
[3]... حدائقِ بخشش، صفحہ:227۔

کيږي، تنګ دستی (غريبي) په خوشحالئ کښې بدليږي، ګناهونه پاکيږي، ډير رحمتونه راوريږي او يوه اهمه فائده ئې دا هم ده چې د درودِ پاک لوستونکی درود سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بارګاه ته رسي، د مالِک او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عنايت نظر هم نصيب کيږي او آقا کريم، رَؤُف او رحيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې اوغواړي نو خپلو غلامانو ته د ديدن جام هم عطا کوي-

الله پاک دې مونږ له د زيات درودِ پاک لوستلو توفيق راکړي او کاش! کاش! ډير ځله کاش! چې د درودِ پاک په برکت سره مونږ ته د محبوبِ خُدا، سردارِ انبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرم نظر نصيب شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په دواړو جهانونو کښې به کامياب شو-

پڑ گئی جس پہ محشر میں بخشا گیا | دیکھا جس سمت ابرِ کرم چھا گیا
رُخ جدھر ہو گیا زندگی پا گیا | جس طرف اُٹھ گئی دَم میں دَم آ گیا

اُس نگاہِ عنایت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته داخلوی-[4]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي- راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به پوره بيان اورم. ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې واورم د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسَولو کوشش کووم ❀ او د خوږ آقا، آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دنيا ته د تشريف راوړلو په خوشحالئ کښې به په شوق سره نعرې هم وهم، جنډې به هم خوزوم، د ذِکرِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اوريدو به د زړه تَنده ماتووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

4...مسند فِرْدَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895۔

اے عاشقانِ رَسُول! ❀ نن د جشنِ وِلادت عظیمه، ښکلې شپه ده ❀ نن هغه شپه ده په کومه شپه چې ستورې د زمکې طرفته مائِله کیدل ❀ نن هغه شپه ده په کومه شپه چې ډلې ډلې فرښتې زمکې ته راکوزیدلې ❀ نن هغه شپه ده په کومه شپه چې په آسمان او زمکه کښې تَشې خوشحالئ وې ❀ نن هغه شپه ده په کومه شپه چې د فرښتو سردار حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام د کعبې په چهت اودریدو او جنډا ئې پرې اولګوله ❀ نن د هغوئې د راتلو شپه ده چې کم یا زیات یو لاکھ 24 زره انبیائے کرام عَلَیْہِمُ السَّلَام چې د چا د راتلو د زیرې د پاره راغلل ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده د چا د راتللو خوشحالې چې په عرش او فرش، زمکه او آسمان کښې اوکړے شوه ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده څوک چې د نیغې لار ښودلو د پاره راغلے ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې د الله پاک د بنده ګانو د الله پاک سره د میلاوهلو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې بے لارې شوو ته د نیغې لار ښودلو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې زړونه د ایمان په نور د ښکلې کولو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې انسانیت د نفس او شیطان د قید نه د آزادولو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې د کُفر او شرک د جرړو ویستلو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې په خپل نورسره دنیا روښانه کولو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې د کرم د دریابونو بهیولو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې د اوده (خلقو) د راپاڅولو، د ژړیدونکو د خندولو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې د غورځیدلو د راپورته کولو، د زړه او جان ژوندې کولو د پاره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده څوک چې رَبِّ کریم د خپل مُلک مالِک جوړ کړے دے ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده د چا په قبضه کښې چې د رَبِّ کائنات خزانې راغلې ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده څوک چې رؤّف هم دے، رَحِیم هم دے ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده څوک چې ډیر سخې هم دے، کریم هم دے ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده چا چې د غریبانانو د ملاتړ جوړیدلو سره تشریف راوړلو ❀ نن د هغوئې د راتللو شپه ده څوک چې د دواړو جهانونو مالِک او مختار، د ګنهګارانو شفاعت کوونکے، د الله پاک حبیب او محبوب او خلیل جوړشو او تشریف ئے راوړلو-

| | |
|---|---|
| یہ کس شہنشہِ والا کی آمد آمد ہے | یہ کون سے شہِ بالا کی آمد آمد ہے |
| یہ آج تارے زمیں کی طرف ہیں کیوں مائل | یہ آسماں سے پیہم ہے نُور کیوں نازِل |

یہ آج کیا ہے زمانے نے رنگ بدلا ہے
یہ آج کیا ہے کہ عالَم کا ڈھنگ بدلا ہے

یہ آج کاہے کی شادی ہے عرش کیوں جھوما
لبِ زمیں نے لبِ آسماں کو کیوں چوما

رُسل انہیں کا تو مژدہ سنانے آئے ہیں
انہیں کے آنے کی خوشیاں منانے آئے ہیں

فرشتے آج جو دھومیں مچانے آئے ہیں
انہیں کے آنے کی شادی رچانے آئے ہیں

یہ سیدھا راستہ حق کا بتانے آئے ہیں
یہ حق کے بندوں کو حق سے ملانے آئے ہیں

یہ بھولے بچھڑوں کو رستے پہ لانے آئے ہیں
یہ بھولے بھٹکوں کو ہادی بنانے آئے ہیں

چمک سے اپنی جہاں کو جگمگانے آئے ہیں
مہک سے اپنی یہ کوچے بسانے آئے ہیں

یہی تو سوتے ہوؤں کو جگانے آئے ہیں
یہی تو روتے ہوؤں کو ہنسانے آئے ہیں

انہیں خُدا نے کیا اپنے مُلک کا مالِک
انہیں کے قبضے میں رب کے خزانے آئے ہیں

جو چاہیں گے جسے چاہیں گے یہ اسے دیں گے
کریم ہیں یہ خزانے لٹانے آئے ہیں

یہ کس شہنشہِ والا کی آمد آمد
یہ کون سے شہِ بالا کی آمد آمد ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مکتبة المدینه ډېر ښکلے کتاب دے:صحابۂ کرام کا عشقِ رسول- ❀ د صحابۂ کرامو علیھِمُ الرِّضوَان د عشق نه د ډک ایمان تازه کوونکو کیفیاتو ❀ د هغوئي د میني نه د ډکو جذبو ❀ مبارک انداز ❀ اطاعت کولو ❀ قربانئ او د دې په شان ډیرې خوندورې واقعې د دې کتاب ښکلا ده، راځئ! د دې نه د صحابۂ کرامو علیھِمُ الرِّضوَان د عشقِ رسول یوه ایمان تازه کوونکې واقعه اورو:

## د رسولَ الله ﷺ د دیدن شوق

حضرت مُصعَب بِن عُمَیر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ صحابئ رسول دے، په دغه وخت کښې لا سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هجرت نه وو کړے او مدینې منورې ته ئې تشریف نه وو راوړے، د دې نه مخکښې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت مُصعَب بن عُمَیر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د نیکئ دعوت عام کولو د پاره مدینې منورې ته لیږلے وو، هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هلته لاړلو او د نیکئ ښه ډیر دعوت ئې ورکړو، ډیر خلق هغوئي په لاس ایمان

قبول کړےوو- (5)

د هغه ورځو خبره ده، یوه ورځ حضرت مُصعَب بن عُمَیر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په مدینه منوره کښې په یو ځائے کښې ناست وو او د دین دَرس ئې ورکولو، نور صحابهٔ کرام عَلَیهِمُ الرِّضوَان هم ناست وو او دا (درس) ئې اوریدلو، په دې اوریدونکو کښې حضرت ابو عبد الرحمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم موجود وو،په کښې دَرس چې که هم د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې د تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ پاک راغلو نو د حضرت ابو عبد الرحمان رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په سترګو کښې به د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدن ښکلا لیدلے کیدله او د هغوئي زړه به د دیدن د شوق نه بے قراره کیدلو-

آخِر هغوئي بے قراره شول او اوئې وئیل: د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدن د پاره می زړه بے قراره دے، آه---!! کال به کله تیریږي، د حج موسم به کله راځي او کله به مکې مکرمې ته حاضریږو او د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دیدن به سترګې خوږوو- د هغوئي دا خبره چې ئې واوریدله نو حضرت مُصعَب بن عُمَیر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مُسکے شو او اوئې فرمائیل: اے ابو عبد الرحمان! صبر اوکړئ! ورځې به تیرې شي-

په خوا کښې ورسره حضرت اِبنِ مَسلَمَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تشریف فرما وو، هغوئي اوفرمائیل: آؤ! د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدن نه بغیر زړه ته قرار نه راځي، دا ورځې به کله تیریږي---!!

گزر تو جائے گی تیرے بغیر بھی لیکن | بہت اُداس، بہت بے قرار گزرے گی

اَللهُ اَکْبَر! د صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان پشان عظیم عاشقانِ رسول او د دیدن د شوق بے قرارۍ---!! حضرت اِبنِ مَسلَمَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د لږ وخت د پاره خاموشه شو، بیا ئې اووئیل: اے مُصعَب بن عُمَیر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ داسې اوکړئ!چې تاسو د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې د تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حُسن ذِکر اوکړئ! حُلیه مبارکه ئې بیان کړئ!

سُبْحٰنَ الله! اوس لږ د صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان د عشق نه ډک، ایمان تازه کوونکے انداز اوګورئ! حضرت مُصعَب بن عُمَیر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ چا چې د دین دَرس ورکولو، هغوئي په دوؤ زنګونانو (یعني لکه څنګه چې په لمونځ کښې په التحیات کښې کښینې، داسې) کښیناستو، سَر مبارک ئې ښکته کړو، سترګې ئې پټې کړې، لکه چې د نُور والا آقا، د مکې مدینې د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خیال سره ئې د نُور جلوه په ذهن کښې راوستله، بیا

---

5... طبقات الکبریٰ، جلد:3، صفحه:87 ـ

ئې سر راوچت کړلو او اوئې فرمائیل، د ټولو ښکلو نه د ښکلي آقا، امامُ الانبیا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رنګ مبارک سپین دے، په دې کښې لږ لږ ښکلے سُور والے ګډ دے، سترګې مبارکې ئې غټې او ښکلې دي، ورونځې مبارکې ئې (دومره نزدې دي چې د لرې نه په کتلو کښې لګي لکه چې) میلاؤ شوې وي، ګیره مبارکه ئې ګڼړه ده، سینه مبارکه ئې غټه، مرئ لکه د سپینو زرو کوزه- کله چې د چا طرفته مخ اړوي نو پوره توجو ورته کوي، د نور نه ډک مخ باندی ئې د خولې څاڅکي داسې ښکاري لکه سپین لعلونه، قد مبارک ئې نه ډیر وړوکے، نه ډیر لوړ (بلکه درمیانه دے)، هغوئې صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه زیات سخي، د ټولو نه زیات بهادُر، د ټولو نه زیات رښتونے، لوظ (وعده) پوره کوونکے، د ټولو نه زیات نرم طبیعت والا، په طور طریقو کښې د ټولو نه ښکلے دے، ما د هغوئې صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پشان چرې هم څوک نه دي لیدلي---!! (6)

سر سے پا تک ہر اَدا ہے لاجواب | خوبرُویوں میں نہیں تیرا جواب
حُسن ہے بے مثل، صُورت لاجواب | میں فدا تم آپ ہو اپنا جواب
ہیں دُعائیں سنگِ دُشمن کا عِوَض | اس قدر نرم، ایسے پتھر کا جواب
مہر و مہ ذَرّے ہیں ان کی راہ کے | کون دے نقشِ کفِ پاک کا جواب (7)

سُبۡحٰنَ الله! څه ناشناعشقِ رسول دے---!! دَرس کیږي، د دین خبرې زده کولے،ښودلے کیږي، په دې وخت کښې صحابۀ کرامو علیهمُ الرّضوَان د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یاد بے قراره کوي، چې کله هم د هغوئې صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر مبارک راځي، د صحابۀ رسول په سترګو کښې اوښکې راځي او بیا سُبۡحٰنَ الله! صحابۀ کرام علیهمُ الرّضوَان په دَرس کښې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خیالونو کښې ډوبیږي---!!

ثابِت ہوا کہ جملہ فرائض فروع ہیں | اَصلُ الاُصُول بندگی اس تاجوَر کی ہے (8)

**وضاحت**: یعني لمونځ، روژه حج، زکوٰة وغیره ټول عبادتونه، د دین ټول تعلیمات د ایمان ښاخونه دي، ایمان د ټول دین جرړه ده او د امامُ الانبیا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبّت، د هغوئې اِطَاعت او فرمانبرداري د ایمان

---

6...صحابہ کرام کا عشقِ رسول، صفحہ: 95-97 بتغیر۔
7...ذوقِ نعت، صفحہ: 88-89 ملتقطاً۔
8... حدائقِ بخشش، صفحہ: 205۔

هم زړه دے، ځکه دا محبّت، دا اِطاعت او فرمانبرداري د ټولو اُصُولو اَصل او د دين بنيادي جَرړه ده-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب          صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## صحابهٔ کرام عَلیہِمُ الرِّضوَان او د مصطفٰے ﷺ تَصَوُّر

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د دې واقعې نه يو مدني ګل دا هم د زدکړې دپاره ميلاؤ شو چې که صحابهٔ کرام عَلیہِمُ الرِّضوَان به کله د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم نه ظاهري طور لرې هم وو نو د هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم د ښکلي نوراني مخ، او د هغوئي د حُسن او جمال او مبارکو اداګانو خيال راوستو سره به ئې زړه له قرار ورکولو-

**سُبۡحٰنَ الله!** دا هم ډيره ښکلې اَدا ده، کاش! چې زمونږ د غلامانو هم دا توفيق نصيب شي، مونږه چې هم ځانله يو نو سترګې پټې کړو او کښينو، کله د ګنبدِ خضرا خيال راولو، کله د سرو زرو د جنګلو په خيالونو کښې ډوب شو او که الله پاک توفيق راکړي نو د سرکارِ عالي وقار، د مکي مديني د تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم حُليه مبارکه په کتابونو کښې اولولو او په ذهن کښې ئې کښينوو، د هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم مبارکې اداګانې هم لولو، په ذِهن کښې ئې کښينوو هم ،او وخت په وخت سترګې پټې کړو، سر ښکته کړو او د مديني د سردار، د زړونو او سينو د قرار صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم د مبارکو اداګانو خيال راولو او د خپل ځان نه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم په اداګانو کښې ډوب شو، يقين اوکړئ! ډير خوند به اوکړي، په زړه کښې به ايمان داسې مضبوط شي چې څه جواب به ئےنه وي---!!

دِل میں ہو یاد تری گوشۂ تنہائی ہو | پھر تو خَلوَت میں عجب انجمن آرائی ہو[9]

## حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُ او د مصطفٰے ﷺ ذِکر

مشهور صحابئ رسول دے: حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُ - د خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات حديثونه هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ روايت کړي دي- د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُ يو ډير ښکلے، ايمان تازه کوونکے او د عشق نه ډک عادَت وو، په طبقاتِ اِبنِ سَعد کښې دي:چې د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہ عَنۡہُ معمول

---

[9]... ذوقِ نعت، صفحہ:204۔

مبارک وو، هغوئي چې به کله هم يو کلي وال ګس ليدلو يا د داسې يو ګس سره به ميلاويدلو چا چې د رسولِ ذيشان،د مکي مدني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زيارت نه وو کړے نو فرمائيل به ئې: آيا زه تاسو ته د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صفتونه او کمالونه بيان کړم--؟ بيا به ورته هغوئي د رسولِ رحمت، شفيعِ اُمّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوره حُليه مبارکه بيان کړله- [10]

ہر آنکھ دیکھتی ہے تیرے ہی رُخ کا جلوہ | ہر کان سُن رہا ہے پیارے کلام تیرا[11]

## د مصطفٰے ﷺ د کمالونو د ذِکرکولو يو څو فائدې

سُبْحٰنَ الله! سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د صحابهٔ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضْوَان ---!! چاته لمونځ ښودل، د اوداسه طريقه ښودل، د روژې او زکوٰة وغيره مسئلې وئيل، د دې ټولو په خپل خپل ځائے ډير اهميت دے، صحابهٔ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضْوَان به خلقو ته دا څيزونه هم ښودل خو په اَوَّل نمبر به صحابهٔ کرامو عَلَیھِمُ الرِّضْوَان د خوږ آقا، د مکي مدينې د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صفتونه او کمالونه بيانول ځکه چې د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کمالونو بيانولو او اوريدو سره په زړه کښې مينه زياتيږي، د خوږ آقا، د مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د زړه رشته مضبوطيږي او دا رشته چې څومره هم مضبوطه وي، هغه همره ايمان پخيږي او ايمان چې څومره پوخ وي، هغه همره په نيکو کښې زړه لګي او انسان د جنّت په لاره روانيږي- [12]

ہر آنکھ دیکھتی ہے تیرے ہی رُخ کا جلوہ | ہر کان سُن رہا ہے پیارے کلام تیرا[13]

علّامه محمد بن حُسَين آجُرّي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: چې الله پاک چې خپل محبوب نبي،رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته په دنيا او آخرت کښې کوم صفتونه او کمالونه او فضيلتونه ورکړي دي، د هغې نه ځان نه خبرول د اُمّت د پاره ډيره بده خبره ده- )

[10]... طبقات الکبریٰ، ذکر صفۃ خلق رسول اللہ، جلد:1، صفحہ:318۔
[11]... قبالۂ بخشش، صفحہ:23۔
[12]... طبقات الکبریٰ، ذکر صفۃ خلق رسول اللہ، جلد:1، صفحہ:318۔
[13]... قبالۂ بخشش، صفحہ:23۔

(1

| | |
|---|---|
| نام تیرا، ذِکر تیرا، تو ترا پیارا خیال | ناتوانوں بے سہاروں کا سہارا ہو گیا[2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پاک بدن معجزې او کمالونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** راځئ! د صحابهٔ کرامو علیھمُ الرِّضوَان په اداګانو باندې د عمل کولو او په زړه کښې د عشقِ رسول زياتولو د پاره د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار، رسولِ مختار، د دواړو جهانونو د سَيِّد او سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بدن مبارک د معجزو او کمالونو لږ شان ذِکر واورو:

زمونږه آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سراسر معجزه ده

په 6 سيپاره، سورۀ نساء، آيت: 174 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ (پاره 6، سورۀ نسا:174) | **ترجمهٔ کنزُ الايمان:** اے خلقو بے شکه تاسو ته د الله پاک د طرف نه واضحه دليل راغلے۔ |

مُفَسِّرين کرام د دې آيتِ کريمه په تفسير کښې فرمائي چې: ډير مضبوط او پوخ دليل ته بُرهان وئيلے شي۔ په دې آيتِ کريمه کښې د بُرهان نه مُراد زمونږه آقا او مولا، مکې مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے يعني دعوٰی دا ده **چې د کائنات يو خالِق، يو مالِک دے او هغه يو ربښتونے خدائے الله رَبُّ العَالَمِين دے، اے خلقو! رسولِ رحمت، شفيعِ اُمّت** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **په دې دعوٰی باندې د ډير پوخ او مضبوط دليل جوړشوےاوستاسو خوا له ئےتشريف راوړے دے۔**[3]

| | |
|---|---|
| رَبِّ اعلیٰ کی نعمت پہ اعلیٰ درود | حق تعالیٰ کی مِنَّت پہ لاکھوں سلام[4] |

---

[1]... کتاب الشريعة للآجری، جزء الحادی عشر، باب فضائل النبی، جلد:3، صفحہ 1385۔
[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:74۔
[3]... تفسیرِ نعیمی، پارہ:6، سورۂ نسا، تحت الآیۃ:174، جلد:6، صفحہ:144 ماخوذًا۔
[4]... حدائقِ بخشش، صفحہ:298۔

**وضاحت**: د الله پاک د ټولو نه په اعلیٰ او اَرفع نعمت (زمونږه د غریبانانو په آقا او مولیٰ، زمونږه په شفاعت کوونکي، بخښونکي آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) باندې دې اَعلیٰ درود او د الله پاک په عظیم احسان دې په لکونو سلامونه وي-

د قرآنِ پاک مشهور مفسِر، حکیمُ الاُمَّت، مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې: ❁ د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام معجزې د الله پاک د ذات او صفتونو دلیل وي ❁ تیرو شوو انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام له مختلفې معجزې ورکړئےشوي وې ❁ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام لاس مبارک معجزه وه ❁ د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام آواز مبارک معجزه وه ❁ د حضرت یوسُف عَلَيْهِ السَّلَام حُسن مبارک معجزه وه، دغه شان په مخکښینو انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام کښې چاته یوه معجزه عطا کړے شوې وه، چاته دوه معجزې عطا کړے شوې، د دې ټولو انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه پس الله پاک خپل د ټولو نه آخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سر نه واخله تر ښپو پورې سراسر معجزه جوړه کړه او را اوئې لیږلو [1] او اوئې فرمائیل: اے خلقو! تاسو ته د رَبّ له خوا ډیر پوخ او مضبوط دلیل راغلے-

| | |
|---|---|
| دیئے معجزے انبیا کو خُدا نے | معجزہ بن کے آیا ہمارا نبی |

| | |
|---|---|
| سرکار کی آمد! مرحبا! | سردار کی آمد! مرحبا! |
| اچھے کی آمد! مرحبا! | سچّے کی آمد! مرحبا! |
| مختار کی آمد! مرحبا! | غمخوار کی آمد! مرحبا! |
| بشیر کی آمد! مرحبا! | نذیر کی آمد! مرحبا! |
| مُنیر کی آمد! مرحبا! | بَصیر کی آمد! مرحبا! |
| حُضُور کی آمد! مرحبا! | پُر نور کی آمد! مرحبا! [2] |

## (1): د مصطفٰے ﷺ د بدن یوه ناشنا معجزه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** په دې دنیا کښې چې څومره څیزونه دي، د هغې ټولو 2 قسمونه دي: (1): بعضې هغه څیزونه دي کوم چې کَثِیف (یعني کوټلي) دي، داسې څیزونه کوم چې مونږه نیولے شو، هغه پرده

---

[1] ... تفسیر نعیمی، پارہ:6، سورۂ نسا، تحت الآیۃ:174، جلد:6، صفحہ:147 ملتقطاً۔
[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:519 ۔

جوړولے شو، که چرې دا د رنړا مخې ته کيښودے شي نو په زمکه ئې سورے جوړيږي، لکه څنګه چې ديوال دے- مونږه ديوال نيولے هم شو، د هغې نه شاته پټيدے هم شو او په ګرمئ يا رنړا کښې د ديوال سورے هم جوړيږي- څکه ديوال يا د دې پشان نور څيزونه، لکه زمونږه بدن، کاغذ، قلم، دروازه، تکيه وغيره دې ټولو ته ګثِيف جسم وئيلے شي- (2): دويم قسم څيزونه هغه دي، کومو ته چې **لطيف وئيلے شي** يعني داسې څيزونه کوم چې موجود خو دي خو مونږه هغه رانيولے نه شو، هغه په مينځ کښې پرده نشو جوړولے، لکه هوا ده، رنړا ده، مونږه هوا او رنړا خو محسوسوو، رنړا خو مونږ ته ښکاري هم خو مونږه هوا او رنړا نه شو نيولے، نه ترې پرده جوړولے شو، دغه شان د هوا او رنړا څه سورے هم نشته-

عامه مشاهَده ده چې په دنيا کښې کوم څيزونه ګثِيف (يعني کوټلي) دي، هغه لطيف نه دي او کوم چې لطيف دي، هغه ګثِيف نه دي، مثلاً ديوال ګثِيف (يعني کوټلے) دے، لطيف نه دے، هوا لطيف ده، کثيف نه ده- دا عامه قاعده ده خو قربان شم! رَبِّ کائنات خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بے مثله او بے مثاله جوړ کړے دے، زمونږه د آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارک دا ناشنا معجزه ده چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک په يو وخت کښې ګثِيف هم وو او لطيف هم وو-

هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پاڅيدلو، کښيناستلو، ګرځيدلو، خوراک څښاک به ئې هم کولو، د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان سره به ئې سلام هم کولو، لاسونه به ئې ورسره هم ميلاوهل او خوش قِسمتو له به ئې غاړه هم ورکوله، دا دے د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارک کثافت-

بل خوا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نمونه مبارکه لطيف دومره وه چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بل طرفته دهغوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذات مبارک لطيف دومره ووچې هغوی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ډيوې مخې ته راغلو يا د لمر مخې ته به جلوه ګر شو، په يو وخت کښې هم، نه د ورځې، نه د شپې، نه د ډيوې مخې ته نه د لمر او سپوږمئ مخې ته، په يو وخت کښې به هم د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارک سورے نه جوړيدو-

يعني د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک دومره لطيف وو لکه څنګه چې د رنړا او هوا سورے نه جوړيږي، دغه شان د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک هم د سوري نه بالکل پاک وو، سُلطَانُ المُفسِّرين، عظيم صحابئ رسول، حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِىَ اللهُ عَنهُ فرمائي چې: لَمْ يَكُنْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم ظِلٌّ يعني د معجزو والا نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارک بالکل سورے نه وو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د ډيوې مخې ته تشريف راوړلو نو د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نور مبارک به د ډيوې په رنړا باندې غالِب راتللو

او کله چې به ئې د لمر مخې ته تشریف راوړلو نو د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور مبارک مخې ته به د لمر نور تَت شولو۔ (1)

حافِظُ الحديث، امام جلال الدّین سیوطي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زمونږه د آقا او مولا، مکې مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاصیتونو کښې یو خاصیت دا هم دے چې د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سورے به په زمکه باندې نه پریوتلو، ځکه چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر نور دے۔ (2)

| | |
|---|---|
| صبح طیبہ میں ہوئی بٹتا ہے باڑا نور کا | صدقہ لینے نور کا آیا ہے تارا نور کا |
| تو ہے سایہ نور کا، ہر عُضو ٹکڑا نور کا | سایہ کا سایہ نہ ہوتا، ہے نہ سایہ نور کا |
| تیری نسل پاک میں ہے بچہ بچہ نور کا | تو ہے عینِ نور تیرا سب گھرانا نور کا |
| جو گدا دیکھو لیے جاتا ہے توڑا نور کا | نور کی سرکار ہے کیا اس میں توڑا نور کا |
| میں گدا تو بادشاہ بھر دے پیالہ نور کا | نور دن دُونا ترا دے ڈال صدقہ نور کا (3) |

## د مصطفٰے ﷺ د بدن مبارک خوبئ

اے عاشقانِ رَسُول! د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک خو لطیف وو، دا په خپل ځائے معجزه ده، اوس دا کتل پکاردی چې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک څومره لطیف وو؟ دا هم ډیره ناشنا خبره ده۔ زمونږه دابدن چې کوم دے، دا کَثِیف دے او زمونږه رُوح لطیف دے رُوح چې څومره د ګناهونو خیرے نیسي، د رُوح خوبي کمیږي او انسان چې څومره زیات نیک کارونه کوي، د رُوح خوبي هغه همره زیاتیږي۔ شیخِ رَبَّاني حضرت میاں شیر محمد شرقپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې په دنیا کښې د ټولو نو لوئے او کامل ولی غوث وي او د هغه غوث رُوح چې څومره لطیف وي، د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک د هغه غوث د رُوح نه 70 درجې زیات لطیف دے۔ (4)

سُبْحٰنَ الله! یو طرف ته رُوح دے، رُوح پخپله لطیف دے، بیا د درجهٔ غوثیت لطافت، ټول کال شپه او ورځ د عبادت او ریاضت سره رُوح ته نور هم لطافت میلاویږي، تر دې پورې چې په دنیا کښې د ټولو نه زیات لطیف

---

[1]... سبل الهدیٰ والرشاد، باب العاشر فی صفة وجهه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:2، صفحه:40۔
[2]... خصائص الکبریٰ، باب الآیة فی انه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم لم یکن یری له ظل، جلد:1، صفحه:116۔
[3]... حدائق بخشش، صفحه:244-246 ملتقطاً۔
[4]... البرهان، صفحه:14 بتغیر قلیل۔

رُوح د وخت د غوث وي نو يو خوا دومره د اعلیٰ او اوچتې مرتبې والا رُوح دے، بل خوا رُوح نه بلکه د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک دے، مياں شير محمد شرقپوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: چې د غوث رُوح چې خومره لطيف وي،د معجزو نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک بدن مبارک د غوث د رُوح نه 70 درجې زيات لطيف دے۔

| | |
|---|---|
| روح تو سب کی ہے زِندہ ان کا | جِسمِ پُرنُور بھی رُوحانی ہے |
| اَوروں کی رُوح ہو کتنی ہی لَطیف | اُن کے اَجسام کی کب ثانی ہے [1] |

**وضاحت**: يعني د اَنبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام مبارک بدنونه رُوحاني وي، د خلقو رُوح که هر خومره لطيف ولې نه وي، د اَنبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام د مبارکو بدنونو همره چرې هم لطيف نه شي کيدے۔

## (2): د قد مبارک معجزه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** زمونږ د آقا او مولا، د مکې مدينې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک بدن يوه بله ناشنا معجزه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قامت يعني قَد مبارک معجزه ده۔

د انسان قَد که د جوسې مطابق وي نو ښه لګي، مثال په طور که چرې د چا بدن غټ وي او په قد ډير لوړ وي نو بيا عجبه ښکاري، هم داسې چې د چا بدن غټ وي او قد ئې ډير وړوکے وي، نو بيا به هم ډير عجيبه ښکاري۔ غرض د انسان قد، د هغه په حُسن باندې اَثر غورځوي، د حُسن تقاضا دا ده چې بدن هم نه ډير غټ وي، نه ډير موټا وي او په قد کښې هم نه ډير لوړ وي، نه ډير وړوکے بلکه درميانه (ميانه قد) وي۔

زمونږ آقا او مولا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه زيات ښکلے دے، ځکه رَبِّ کائنات د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بدن مبارک هم ډير مُعتَدِل جوړ کړو او قد مبارک ئې هم نه ډير زيات لوړ اوساتلو، نه ئې ډير وړوکے جوړ کړو بلکه د محبوبِ خُدا، د مکې مدينې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قد مبارک ډير مُنَاسب او درميانه وو۔

خو دلته يواشکال دے هغه دادےچې حُسن تقاضا کوي چې قد مبارک دې درميانه وي خو مسئله دا ده چې کله څوک لوړ قد والا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شي نو د هغه قد به د هغوئي

---

[1] ...حدائقِ بخشش، صفحہ: 372۔

صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دَنګ (لوړ) ښکاري نو دا څنګه کيدے شي--!!ولې چې زمونږه آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو دَنګو نه دَنګ دے۔

| | |
|---|---|
| سب سے اَولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی | سب سے بالا و وَالا ہمارا نبی |
| سارے اُونچوں سے اُونچا سمجھئے جسے | ہے اس اونچے سے اُونچا ہمارا نبی |
| خَلق سے اَولیا اَولیا سے رُسل | اور رَسولوں سے اَعلیٰ ہمارا نبی(1) |

که چرې کوم کَس په ظاهره هم د محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دَنګ ښکاره شي، نو رَبِّ کائنات هغه هم خوښ نه کړو!!

اوس يو خوا د حُسن تقاضا ده چې قد مبارک درميانه وي، بل خوا دا ضروري ده چې څوک په ظاهره هم د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دَنګ ښکاره نه شي، نو رَبِّ کائنات د خپل محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قد مبارک درميانه اوساتلو او ورسره ئې دا معجزه هم عطا کړله چې که هر څومره لوړ قد والا انسان ولې نه وو چې د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې به حاضر شولو نو د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قد مبارک به ترې دَنګ (لوړ) ښکاريدلو۔

د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّيقه طيّبه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنْہَا فرمائي: نُور والا آقا، د مدينې مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله هم د لوړ قد والا کَسانو په مينځ کښې روان وو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په هغه ټولو کښې لوړ ښکاريدلو خو د حيرانتيا خبره دا وه چې څنګه به د هغه لوړ قد والوو تنانو نه بيل شولو نو د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قد مبارک به درميانه ښکاريدلو۔ (2)

د مسلمانانو څلورم خليفه، حضرت علي المرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قد مبارک درميانه وو خو چې کله به هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خلقو په مينځ کښې تشريف اينبودے وو نو د ټولو نه به لوړ ښکاريدلو۔ (3)

تِرا قَد تو نادِرِ دَہر ہے کوئی مِثل ہو تو مِثال دے
نہیں گُل کے پودوں میں ڈالیاں کہ چمن میں سَروِچَماں نہیں(4)

---

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:140۔
2...خصائص الکبریٰ، باب الآیۃ فی طولہ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحہ:116۔
3...شرح الزرقانی، مقصد الثالث، فصل الاول فی کمال خلقتہ وجمال صورتہ، جلد:5، صفحہ:485۔
4...حدائقِ بخشش، صفحہ:109۔

**وضاحت:** يَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ستاسو قد مبارک په ټوله زمانو کښې يوه عجيبه ډالۍ ده که چرې د دې څه مثال وي نو مثال دې راکړے شي، که په چمن کښې د ګلاب د بوټو سيدها ښاخونه وي که د سَروې غټې وَنې وي هغه د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ناز او په انداز د ګرځيدونکي ښکلي قد په مثال نشي کيدے۔

## معنوي برتري (اوچتوالے) به ئې په حِسی طور ښکاريدلو

**اے عاشقانِ رَسُول!** علّامه زُرقاني رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه په دې ځائے کښې بله يوه د کمال خبره ليکلې ده، ګورئ! مونږه په خپلو ظاهري سترګو خو د چا ظاهري بدن ليدلے شو خو د هغه صلاحيتونه په سترګو نه شو ليدلے۔ مثال په طور يو ګس دے، زَيد، مونږه د هغه 5 يا 6 فټه جوسه خو ليدے شو خو زيد حافِظِ قرآن هم دے، مونږه د هغه حفظ نه شو ليدے، زيد عالِمِ دين هم دے، مونږه د هغه عالِم کيدل هم نه شو ليدے، زيد په يو فن کښې ماهر دے، مونږه د هغه مهارت نه شو ليدے۔

خو قربان شم! د رَبِّ کائنات د قُدرت نہ څه عجيبه شان ئےدے، علَّامه زُرقاني رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله د خلقو په مينځ کښې وو نو قد مبارک به ئې لوړ ښکاريدلو، د دې مطلب دا نه دے چې د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قد مبارک به هغه وخت لوړيدلو، بيا به وروستو خپل اَصلي حالت ته راتللو نه، نه---!! داسې نه وه بلکه الله پاک چې خپل محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته کوم معنوي عروج (برتري) او لوړ والے ورعطا کړے وو، د هغوئي د صفتونو او کمالونو چې کوم عروج (برترى)، لوړ والے او اوچت والے دے، دغه معنوي لوړ والے به کتونکو ته په ظاهري سترګو ښکاريدلو او هغوئي ته به داسې ښکاريده لکہ چې هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو نه لوړ او اوچت دي۔ [(1)]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا خو د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بدن مبارک معجزې وې، اوس راځئ! د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو اندامونو يو څو معجزې اورو۔

## (3): د اوريدلو د طاقت معجزې

❀ زمونږه د آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوږونه مبارک ډير ښکلي او کامِل وو ❀ د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوږونه مبارک ډير سره او سپين وو ❀ او مبارکې زُلفې ئې ډيرې تورې وې ❀ چې کله

---

[1]...شرح الزرقانی، مقصد الثالث، فصل الاول فی کمال خلقتہ وجمال صورتہ، جلد:5، صفحہ:485۔

به مبارکو زلفو غوږونه مبارک د خپلو حلقو په ګیره کښې اخستل نو ډیره ښکلې نظاره به وه، د مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا دا ښکلې نظاره بیانوي او فرمائي چې: د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو زلفو ترمینځه به سپین سپین غوږونه مبارک داسې ښکاریدل لکه څنګه چې د شپې په تیاره کښې 2 ستورې ځلیږي۔ (1)

ہے کلامِ الٰہی میں شمس وضُحٰے، ترے چہرۂ نُور فزا کی قسم
قسمِ شبِ تار میں راز یہ تھا کہ حبیب کی زُلفِ دوتا کی قسم (2)

**وضاحت**: اے زما خوږه آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! الله پاک په قرآنِ پاک کښې د وَالضُّحٰی فرمائیلو سره د مبارک مخ قسم کړے دے او د وَالَّیۡلِ اِذَا سَجٰی فرمائیلو سره ئې ستاسو د زلفو قسم کړے دے۔

## د آسمان د چغارې آواز ئې واوریدلو

د حدیثِ پاک په مشهورو کتابونو تِرمذي، اِبنِ ماجه او مسند امام احمد کښې روایت دے: یوه ورځ سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: بے شکه زه هغه (څه) وینم، کوم چې تاسو نه وینئ، زه هغه (څه) اورم، کوم چې تاسو نه اورئ۔ بے شکه آسمان چغارےاوکړو او د هغه حق دے چې هغه عچغیږی ځکه چې په آسمان د 4 ګوتو برابر ځائے هم داسې نشته، چرته چې فرښته تندے نه ږدي او رَبِّ کریم ته سجده نه کوي۔ (3)

**سُبۡحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** اَوَّل خو د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو کمال اوګورئ! زمکه خو زمکه ده، آسمان د زمکې نه څو چنده لوئي دے او سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په زمکه د اوسیږی او د آسمان مشاهده کوي او اوګورئ! څومره ژوره مشاهده ده چې د آسمان د 4 ګوتو برابر حِصه هم داسې نشته کومه چې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پته وي، رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په زمکه تشریف فرما دے او ګوري چې په آسمان باندې د 4 ګوتو برابر ځائے هم خالي نشته چرته چې یوه فرښته تندے نه ږدي او رَبِّ کریم ته سجده نه کوي۔

---

1... دلائل النبوۃ للبیہقی، حدیث ہند بن ابی ہالۃ فی صفۃ رسول اللہ، جلد:1، صفحہ:300۔
2... حدائق بخشش، صفحہ:80۔
3...ترمذی، کتاب الزہد، باب فی قول النبی: لوتعلمون ما اعلم، صفحہ:554، حدیث:2312۔

www.dawateislami.net

بیا د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوریدو کمال هم اوګورئ! آسمان د دې ځائے نه په زرګونو کلومیټره لرې دے، زمونږ پشان عام انسانان خو په بله کمره کښې د ناستو خلقو آواز هم نه اوري او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک غوږونه داسې دي چې په زمکه باندې د تشریف اینښودو باوجود په زرګونو کلومیټره لرې د آسمان د چغارې آواز هم اوري۔

دُور و نزدیک کے سُننے والے وہ کان | کانِ لعلِ کرامت پہ لاکھوں سلام (1)

**وضاحت**: خوږ آقا، د مدینې والا مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو غوږونو دا معجزه ده چې لرې او نزدې یو شان اوري، داسې مبارک غوږونه کوم چې د عزّت او عظمت د لعلونو سرچینه ده، په دغه مبارکو غوږونو باندې دې په لکونو سلامونه وي۔

## په لکونو کاله وروستو (کیدونکو واقعاتو) آوازونه ئې واوریدل

د بخاري شریف روایت دے: یوه ورځ سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سحر په وخت خپل مُؤَذِّن حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته اوفرمائیل: اے بلاله! د مسلمانیدو نه پس چې ته کوم نیک عملونه کوې، په هغې کښې ته کوم یو داسې خاص عمل کوې؟ بے شکه په جنّت کښې ما د ځان نه مخکښې مخکښې ستا د قدمونو آواز اوریدلے دے۔ حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ عرض اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بَل څه داسې خاص عمل نه کووم، البته دا ده چې په شپه یا په ورځ کښې چې کله زما اودس مات شي نو زه فوري طور اودس کووم او (چې مکروه وقت نه وي نو) د تَحِيّةُ الْوُضُو نفلونه کووم۔ (2)

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې حدیثِ پاک نه یو خو د **تَحِيّةُ الْوُضُو** فضیلت معلومیږي چې حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به په پابندئ سره د **تَحِيّةُ الْوُضُو** نفلونه ادا کول، د دې په برکت سره الله پاک هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ته داسې مقام ورعطا کړو چې هغوئي به د قیامت په ورځ په خادِمانه شان سره د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدینې تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مخکښې مخکښې جنّت ته ځي۔

دویم د دې حدیثِ پاک نه د مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوریدلو د شان هم اندازه اولګوئ! د قرآنِ پاک

---

1... حدائقِ بخشش، صفحہ:300۔
2... بخاری، کتاب: تہجد، باب: فضل الطهور بالليل والنهار، صفحہ:332، حدیث:1149۔

مشهور مُفَسِّر، حکیمُ الاُمَّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حدیثِ پاک په وضاحت کښې فرمائي چې: یاد ساتئ! د معراج په شپه نه خو حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره جنّت ته تلے وو، نه هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ معراج کړے وو بلکه حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې شپې هغه واقعه بیان اوفرمائیله کومه چې به د قیامت نه پس وي چې د ټولو مخلوقاتو نه به مخکښې حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په داسې شان سره جنّت ته ځي چې حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به په خادمانه شان سره د هغوئي نه مخکښې مخکښې روان وي- د دې نه دا معلومه شوه چې د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکو سترګو او غوږونو ته دا شان عطا کړے شوے دے چې هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لکونه کاله پس کیدونکي واقعات ویني هم او د هغې آوازونه اوري هم ، دا واقعه به د معراج د شپې نه خو لاکهه کاله پس کیږي خو قربان شم د هغه غوږونو نه چې د هغه وخت د واقعې آواز نن (یعني د معراج په شپه) اوري-[1]

اے کرم کی کان،اے گوشِ حُضُور | سُن لے فریادِ غریباں اَلْغِیَاث[2]

**وضاحت**: اے د کرم سر چینې، اے د حُضُور جانِ عالم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوږونو مبارکو! زمونږ د غریبانانو فریاد واورئ، زمونږه مدد اوکړئ-

## د مصطفٰے ﷺ د اوریدلو ناشنا شان

**اے عاشقانِ رَسُول!** اوس د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوریدلو یو ناشنا شان واورئ! که په سائنسي لحاظ سره اوکتلے شي نو چې کله دوه څیزونه خپل مینځ کښې اوجنګیږي یا اوموښلے شي نو د دې نه آواز پیدا کیږي، دا آواز که چرې زمونږه د اوریدو د طاقت په دائره کښې وي نو مونږه هغه اوریدے شو، ګنې نو نه ئې اورو- بیا که چرې مونږه دا آواز واورو هم نو په هغې باندې د پوهیدلو د پاره ضروري ده چې په دغه آواز کښې لفظونه موجود وي او هغه لفظونه هم په هغه ژبه کښې وي کومه ژبه چې مونږ له راځي یعني دا ټولې تقاضې پوره وي، آواز وي، زمونږه غوږونو ته رارسي، په هغې کښې لفظونه هم وي، مونږه د دغه لفظونو په ژبه هم پوهیږو نو بیا مونږه د یو آواز اوریدو سره په هغې پوهیدے شو خو د مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوریدو څومره ناشنا شان دے، هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په زرګونو کلو میتره لرې آوازونه هم اوری، په لکونه کاله پس د کیدونکو واقعاتو

[1]... مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحہ:302بتغیر قلیل۔
[2]... ذوقِ نعت، صفحہ:106۔

آوازونه هم اوري، اوس د دې نه لرې وړاندې لاړ شئ! دا څه چې مو واوريدل، هلته خو کم از کم آواز خو وو خو څومره عجيبه شان دے چې چرته په ظاهره څه آواز پيدا شوے هم نه وي، د آواز چپې هم جوړې نه وي، لفظونه هم نه وي، زمونږه آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا هم اوريدلے شي او پوهيږي پرې هم-

د ابو داؤد شريف حديثِ پاک دے، حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې: د غزوهٔ خيبر موقع وه، يوې غير مسلمې زنانه يوه وريته کړے شوې چيلۍ (بيزه) په بارګاهِ رسالت کښې د ډالۍ په طور وړاندې کړه، خوږ آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ډالۍ قبوله کړه، د هغه وريتې کړے شوې چيلۍ (بيزې) يوه ښپه ئې واخسته، پخپله ئې خوړله، صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان هم د غوښې خوراک شروع کړو، اوس ئې لا يو دوه نمړۍ اخستې نه وې چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول د خوراک نه منع کړل، بيا ئې هغه غير مسلمه زنانه راوبلله، پوښته ئې ترې اوکړه: آيا تا په دې غوښه کښې زهر اچولي دي؟ هغې اووئيل: آؤ! زهر خو مې پکښې اچولي دي خو دا خبره تاسو ته چا اوکړه؟ عظيم اوريدونکي نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَخْبَرَتْنِيْ هٰذِهٖ فِيْ يَدِيْ يعني د دې وريتې کړے شوې چيلۍ (بيزې) ښپې کومه چې زما په لاس کښې ده، ماته وئيلي دي-[1]

اَللّٰهُ اَكْبَرُ! غور اوکړئ! چيلۍ (بيزه) ژوندۍ نه ده، ذَبَح کړے شوې ده بلکه د ذَبَح کولو نه پس پخه کړے شوې او وريته کړے شوې ده، اوس به د دې نه آواز څنګه راوځي؟ په دې کښې به لفظونه د کوم ځائے نه راځي؟ خو دا د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوريدو شان دے، په ظاهره څه آواز نشته، څه لفظونه هم نشته، سرکارِ عالي وقار، د مکي مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وريتې کړے شوې چيلۍ (بيزې) د ښپې خبره واوريدله هم او پوهه پرې هم شو-

| | |
|---|---|
| دُور و نزدیک کے سُننے والے وہ کان | کانِ لعلِ کرامت پہ لاکھوں سلام[2] |

**وضاحت:** د خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غوږونو مُبارکو دا معجزه ده چې د لرې او نزدې نه يو شان اوري، داسې مبارک غوږونه کوم چې د عزّت او عظمت د لعلونو سر چينه ده، په دغه مبارکو غوږونو باندې دې په لکونو سلامونه وي-

---

[1]...ابو داوٗد، کتاب الدیات، باب فیمن سقی رجلا، صفحہ:711، حدیث:4510 ۔
[2]...حدائقِ بخشش، صفحہ:300۔

## د لکونو غلامانو دُرُود اوري

اے عاشقانِ رَسُول! اوس دلته لږ غور اوکړئ! خوږ آقا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک چې په زرګونه کلوميټره لرې آوازونه هم اوري، په لکونه کاله پس کيدونکې واقعات هم اوري بلکه چې چرته آواز هم نه وي، لفظونه هم نه وي، هغه هم اوري، پوهيږي پرې هم نو آيا د خپلو غُلامانو درود به نه اوري؟ يقيني طور رسولِ رحمت، شفيعِ اُمّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ګنبدِ حضرا شريف کښې تشريف فرما دے او د ټولې دنيا د غلامانو درودِ پاک اوري هم او که چرې اوغواړي نو کرم اوکړي، خپل ديدن هم ورکړي-

په حديثِ پاک کښې دي، زمونږه خوږ آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زما کوم اُمَّتي چې په ما باندې درود لولي هغه چې هر چرته وي، د هغه آواز ماته رارسي- (1)

سُبْحٰنَ الله! د اوريدلو څومره عظيم شان دے--!! درودِ پاک لوستونکي درود لولي، څوک ئې په پاکستان کښې لولي، څوک ئې په ترکستان کښې، څوک ئې په بُخارا کښې لولي، څوک ئې په سمر قند کښې، څوک په امريکه کښې درود لولي، څوک په افريقه کښې، څوک په جاپان کښې ناست دے او د درود شريف پيرزونې وړاندې کوي، څوک په عراق کښې، غرض: په ټوله دنيا کښې چې په کوم کوم ځائے کښې هم عاشقانِ رسول دي، هغوئي درودِ پاک لولي، بيا دا يو يا دوه نه دي بلکه په زرګونو په لکونو مسلمانان دي، يو وخت هم داسې نه تيريږي په کوم کښې چې څوک درودِ پاک نه لولي، که شپه وي او که ورځ، سحر وي او که ماښام، که ماسپخين وي او که نيمه شپه، هر وخت د لکونو په تعداد کښې عاشقانِ رسول په بارګاهِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د درودونو پيرزونې وړاندې کوي او رَبِّ کائنات د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوږونو مبارکو ته دا شان ورکړے دے چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هر وخت د ټولو دُرُود اوري-

*واللہ! وہ سُن لیں گے، فریاد کو پہنچیں گے*
*اِتنا بھی تو ہو کوئی جو آہ کرے دِل سے* (2)

**وضاحت:** بس څوک خو دې د زړه نه فرياد خو اوکړي، په الله پاک مې دې قسم وي! خوږ آقا، د مدينې والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ئې فرياد واوري هم، مدد به ئې هم اوکړي-

---

[1] ...ابوداؤد، کتاب المناسک، باب زيارة القبور، صفحه:326، حديث:2042-
[2] ...حدائقِ بخشش، صفحه:143-

## (4): د سترګو مبارکو معجزې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اوس راځئ! د محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو سترګو شان اورو:

## د مبارکو سترګور حُسن او جمال

❁ د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکې سترګې لوئے او تَـکې تورې وې [(1)] ❁ د مبارکو سترګو په سپينه حِصه کښې ئې سرې کربښې وې [(2)] ❁ او د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سترګې مبارکې قدرتي طور تورې وې (يعني هغوئي به په سترګو کښې رانجه پورې کول خو د رانجو پورې کولو حاجت نه وو) [(3)] ❁ حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د خوږ آقا، د مکې مدينې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وړوکوالي مبارک زمانه وه، نور ماشومان چې به کله د خوب نه راپاڅيدل نو د هغوئي ويخته به ګډ وَډ وو او سترګې به ئې خوبَولې وې، خو رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله د خوب نه راپاڅيدلو نو سر مبارک به ئې په تيلو غوړ او په سترګو کښې به ئې رانجه پورې وو- [(4)]

## د آقا ﷺ د ليدلو مبارک انداز

❁ زمونړه د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې هغوئي به د حيا نه سترګې ښکته ساتلې او کله چې به ئې چاته کتل نو عادت مبارک ئې دا وو چې د سترګو په ګوَټونو کښې به ئې کتل- [(5)]

نیچی آنکھوں کی شَرم و حَیا پر دُرود | اُونچی بِینی کی رِفعَت پہ لاکھوں سلام [(6)]

## وړاندې وروستو به ئې يو شان ليدل

❁ د مشهور صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه راويت دے، فرمائي چې: يوه ورځ نبئ اکرم، نورِ

---

[1]... دلائل النبوة للبيهقي، باب صفة عين رسول الله، جلد:1، صفحه:213-
[2]... دلائل النبوة للبيهقي، باب صفة عين رسول الله، جلد:1، صفحه:210-
[3]... دلائل النبوة للبيهقي، باب صفة كفى رسول الله، جلد:1، صفحه:248-
[4]... طبقات الكبرىٰ، ذكر ابي طالب وضمه رسول الله، جلد:1، صفحه:96-
[5]... دلائل النبوة للبيهقي، حديث هند بن ابي هالة في صفة رسول لله، جلد:1، صفحه:287-
[6]... حدائق بخشش، صفحه:301-

مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ له د ماسپخين جَمعه راکړله، د جُمات په آخري صَف کښې يو ګس وو، هغه په لمونځ کښې څه غلطي اوکړه، کله چې لمونځ مکمل شو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سلام اوګرځولو نو هغه آخري صَف والا ګس له ئې آواز ورکړو او اوئې فرمائيل: اے فلانکيه! آيا ته د الله پاک نه نه ويريږې؟ آيا ته دې ته نه ګورې چې لمونځ څنګه کولے شي؟

بيا هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چې: آيا ته دا ګنړې چې زما نه ستا څه عمل پټ دے؟ په الله پاک مې دې قسم وي! ماته وروستو هم هر څه داسې ښکاري، لکه څنګه چې راته خپلې مخې ته ښکاري- [1]

سُبْحٰنَ الله! څنګه د کمال نظر دے! حکيمُ الاُمت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: چې د دې حديثِ پاک نه يو څو مسئلې ثابتې شوې: **(1)**: د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سترګې مبارکې وړاندې، وروستو، ښي، ګس اړخ، په تياره او رڼړا کښې هر څيز ويني **(2)**: د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سترګو مبارکو په مينځ کښې هيڅ ديوال يا پرده نشته، ❀ اوګورئ! حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د امامت په مصله باندې دے او هغه ګس په آخري صَف کښې، په مينځ کښې ډير صفونه دي خو د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک نظر ته د هغه هر حرکت ښکاري او دا به ولې نه وي ❀ چې کله حضرت سليمان عَلَیْہِ السَّلَام د 3 ميله په فاصله باندې ميږے ويني او د هغه آواز اوري ❀ آصف بن برخيا رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه په شام کښې ناست وي او د ملکه بلقيس يمني تخت ويني ❀ عيسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام په کورونو کښې دننه خوړلے شوي خوراکونه او جمع کړے شوې غله ويني نو حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو سيدُ الاَنبِيا دے (نو د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سترګې مبارکې به لرې او نزدې، پټ او ښکاره څيزونه څنګه نه ويني)- **(3)**: مفتي صاحِب نور فرمائي چې: ( د دې حديثِ پاک نه يو اهم دَرس دا حاصل شو چې) هر اُمَّتي له پکار دي چې په لمونځ کښې خيال کوي چې ما حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ويني، اوګورئ! سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زه تاسو وروستو هم وينم، څکه سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قيامت د ورځې پورې خپل هر اُمَّتي ويني- [2]

سَيِّدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نظر کمال بيانوي او فرمائي:

شش جہت سمت مقابِل شب و روز ایک ہی حال
دُھوم وَالنَّجم میں ہے آپ کی بینائی کی [3]

---

[1]...مسند احمد، مسند ابی ہریرہ، جلد:4، صفحہ:662، حدیث:10049۔
[2]...مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحہ:30 -31 بتغیر قلیل۔
[3]...حدائقِ بخشش، صفحہ:154۔

**وضاحت:** سمتِ مقابِل: يعني مخامخ طرف- دا زمونږ پشان عام خلق دي،چې مونږ ته صرف هغه څيز ښکاري کوم چې زمونږ مخې ته وي خو د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر دا کمال دے چې هغه بره، ښکته، ښي، ګَس، وړاندې وروستو هر طرف ويني، 6 واړه اړخونه (يعني ښي، ګَس، بره، ښکته، وړاندې، وروستو) د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره داسې دي لکه چې د عامو سترګو د پاره مخامخ اړخ دے او دا داسې نه دي چې يو وخت وي بلکه شپه ورځ، هر وخت، هره لحظه د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر دغه کمال دے- که چرې د دې دليل کتل وي نو د 27 سيپارې، سورۀ وَ النَّجم اولولئ، الله پاک په دې سورت کښې د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ليدلو د طاقت کمال بيان کړے دے-

## د مصطفٰے ﷺ د نظر عجيبه معجزه

**اے عاشقانِ رَسُول!** دا خو د شپږو اړخونو (يعني د وړاندې، وروستو، ښي، ګَس، بره او ښکته شپږو اړخونو) خبره ده، د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظر ته چې الله پاک کوم کمالونه عطا کړي دي، هغه د دې نه هم زيات دي- اوګورئ! خوږ آقا، د مکې مدينې مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 6 واړو اړخونو ته يو شان ګوري، دا هم ډير غټ کمال دے خو غور اوکړئ! دا اړخونه دي چرته؟ په دې دنيا کښې، په دې جهان کښې- د دې جهان نه علاوه بل يو جهان دے، هغه په دې 6 اړخونو کښې نه راځي بلکه هغه خو جهان هم بدليږي، مثال په طور عالَمِ اَرواح دے، بيا عالَمِ دُنيا، بيا عالَمِ برزخ دے، بيا عالَمِ آخرت دے، دغه شان په زرګونو جهانونه دي، مونږ خو په دې جهان کښې 6 واړو ته خو غټه خبره ده 2 ته هم يو شان نه شو کتلے، مونږ چې مخې ته ګورو نو وروستو راته څه نه ښکاري، چې وروستو ګورو نو مخامخ څيزونه راته نه ښکاري چې مونږه په يو جهان کښې 6 اړخونو ته يو شان نشو کتلے نو د يو جهان نه به بَل جهان ته څنګه اوګورو؟ کوم چې اوس په عالَمِ اَرواح کښې دي، لا دنيا ته راغلي هم نه دي، هغوئي دا دنيا نشي ليدلے، څوک چې په دنيا کښې دي، هغوئي عالَمِ برزخ نشي ليدلے خو قربان شم! رَبِّ کائنات خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته څنګه کمال نظر عطا کړے دے، د هغوئي سترګې مبارکې په دې جهان کښې دي او د بَل جهان والا هم ويني-

د بُخاري شريف حديثِ پاک دے، يوه ورځ سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو ځائے تيريدلو، 2 قبرونه ئې اوليدل، اوئې فرمائيل: دا دواړه قبرونو والا په عذاب کښې دي او عذاب هم څه په داسې ګناه باندې نه ورکړے کيږي د کوم نه چې بچ کيدل ګران وو، په دې کښې يو د ميتيازو د دارو نه ځان

نه ساتلو او بل چغل خور وو-[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې حديثِ پاک نه يو خو د چغلئ او د ميتيازو نه د ځان نه بچ کولو تباهي معلوميږي چې کوم بنده چغلي کوي، د فساد جوړولو د پاره د يو خبرې بَل ته کوي او څوک چې د ميتيازو د دارو نه ځان نه بچ کوي، دوئي په ډير نقصان کښې دي، د روايتونو مطابق د قبر عذاب زياتره د دې ګناهونو په سبب کيږي-

ځکه مونږ له پکار دي چې مونږه د دې ګناهونو نه بلکه د ټولو ګناهونو نه هر وخت ځان بچ کړو- الله پاک دې مونږ له د بچ کيدو توفيق را کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

په دويم نمبر باندې په دې حديثِ پاک کښې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر مبارک کمال هم بيان شوے دے، دلته په دې ځان پوهه کړئ چې په قبر باندې يوځو مَنَه خاوره ده،او سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې خاورې لاندې اوليدل، نه، نه---! داسې نه ده، هغه جهان بدل دے، په قبر کښې لاندې کتل هسې هم شرعي طور صحيح خبره نه ده، البته که د باران وغيره په وجه قبر برسيره شي نو مونږ ته به په هغه ځائے کښې هيڅ نه ښکاري، ولې؟ ځکه چې مونږه څه وينو، هغه دنيا ده، د مَړي سره چې کومې معاملې کيږي، هغه په دنيا کښې نه بلکه په بل جهان يعني عالَمِ برزخ کښې کيږي- خو قربان شم! دا د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر کمال دے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې دنيا کښې د ظاهري ژوند سره تشريف فرما دے، دا جهان بيل دے، عالَمِ برزخ بيل جهان دے او هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې جهان کښې د پاتې کيدو باوجود بل جهان ويني هم او په بَل جهان کښې څه کيږي؟ په څه وجه باندې کيږي؟ په دې هر څه باندې پوهيږي هم-

## د ټولو جهانونو سره تعلق قائِم دے

حضرت علّامه احمد سعيد کاظِمي شاه صاحِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې ځائے کښې ډيره ښکلې علمي نکته بيان کړې ده، د هغوئي د ارشاداتو خلاصه ده: د رَسُول د مُرسَلَ اِليه (يعني د خپل اُمّت) سره يو تعلق وي، که چرې دا

---

[1] ... بخاری، کتاب الوضوء، باب من الکبائر ان لایستتر من بوله، صفحه:128، حديث:216-

تعلق پاتې نه شي نو مَعَاذَ الله! رسالت به پاتې نه شي- اوس به دا کتل پکاردی چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمّت دائره تر کوم ځائے پورې ده؟ الله پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| تَبٰرَكَ الَّذِیْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِیَكُوْنَ لِلْعٰلَمِیْنَ نَذِیْرَا ۙ﴿۱﴾ (پاره:18 ،سورۀ فرقان:1) | ترجمۀ کنز الایمان: هغه (الله) ډیر برکت والا دےهغه چا چې په خپل بنده باندې قرآن نازل کړو د پاره د دې چې هغه ټول جهان والوؤ ته ویره اوروونکے وي- |

معلومه شوه چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جهانونو ته د ویرې اورولو د پاره تشریف راوړے دے، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو رسول دے ❀ د عالَمِ اَرواح هم هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رسول دے ❀ د عالَمِ دنیا هم رسول دے ❀ د عالَمِ برزخ هم رسول دے، ځکه د هغوئي رسالت دا تقاضا کوي چې د هغوئي تعلق به هر وخت د ټولو جهانونو سره هم دغه شان قائم وي- هم دا وجه ده چې کله هغوئي په دې دنیا کښې تشریف فرما وو نو د عالِمِ برزخ سره ئې هم پرله پسې تعلق قائم وو، اوس چې هغوئي په عالَمِ برزخ کښې تشریف فرما دي نو اوس هم د دې دنیا سره د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعلق هم هغه شان قائم دے-[1]

وه جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا، وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو | جان ہیں وہ جہان کی، جان ہے تو جہان ہے[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نورو اندامونو مبارکو معجزې

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږ آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر معجزه ده- د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم موئے (ویښته) مبارک داسې بے مثاله او د کمال والا دي چې صدئ تیرې شوې ❀ نن هم اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په دنیا کښې په زرګونو عاشقانِ رسول سره صحیح او سلامت موجود دي ❀ نن هم د موئے مبارک په برکت سره شِفا میلاویږي ❀ د موئے مبارک په برکت سره سختې حل کیږي ❀ که د سرکارِ عالي وقار، د مکې

1...مواعظ کاظمی، جلد:1، صفحہ:22 -23 ملخصًا۔
2...حدائق بخشش، صفحہ:178۔

مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاسونو مبارکو خبره اوکړے شي! نو دا هغه مبارک لاسونه دي چې د دې په برکت سره شِفا ميلاويږي ❁ لاس مبارک چې ئې د کوم خيز سره اولګي، هغې له ژوند ورکوي ❁ يو ځل هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترګو نه په اوښکو بهيدونکي باندې لاس مبارک راښکل نو شفا ورته ميلاؤ شوه [(1)] ❁ د حضرت قتاده رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ سترګه وتلې وه، سرکارِ عالي وقار، د مکې مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل پاک لاس باندې د سترګې ګاټے واپس بيرته په هغه ځائے کينبودو نو شِفا ئې نصيب شوه [(2)] ❁ د حضرت عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ښپه ماته شوې وه، سرکارِ عالي وقار، د مکې مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې پرې لاس مبارک راښکل نو ماته شوې ښپه ئې جوړه شوه [(3)] ❁ د غزوۀ بدر په موقع باندې د حضرت عکاشه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ توره ماته شوې وه، سرکارِ عالي وقار، د مکې مديني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل لاس مبارک هغه له لَخته ورکړه نو هغه سپينه ځليدونکې توره جوړه شوه [(4)] ❁ يو ځل ئې د حضرت بِشر بن معاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په سر باندې لاس راښکل نو د هغه دا حالت شو چې مريض له به ئې کَوَتې وروړلې، هغه ته به شِفا ميلاويدله او [(5)] ❁ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ بدن له لاس وروړل نو ټول عمر به د هغه د بدن نه تازه خوشبو تلله [(6)] ❁ هم دغه شان که چرې د ژبې مبارکې خبره اوکړے شي نو سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے شان ئې دے---!! اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي:

وہ زباں جس کو سب کُن کی کنجی کہیں | اس کی نافِذ حکومت پہ لاکھوں سلام [(7)]

**وضاحت**: يعني زمونږ د خوږ آقا، د مديني والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مبارکه د تقديرِ الٰهي چابي ده- څنګه څنګه چې دا مبارکه ژبه خوزيږي، واقعات هم هغه شان کيږي- د دې ژبې مبارکې د کمالونو ليدلو سره دا وئيلے شي چې د کائنات په کوټ کوټ باندې د هغوئي حکومت دے او په داسې حکومت دې په لکونو سلامونه وي-

---

1... مسند احمد، جلد:9، صفحہ:651، حدیث:24468 ملخصًا۔
2... امتاع الاسماع، واما رد الرسول عین قتادة، جلد:11، صفحہ:330 ملخصًا۔
3... بخاری، کتاب المغازی، باب قتل ابی رافع عبد الله، صفحہ:1015، حدیث:4039 ملتقطًا۔
4... جامع الاصول فی احادیث الرسول، عکاشہ بن محصن، جلد:10، صفحہ:443۔
5... کنز العمال، کتاب الفضائل، فضائل الصحابة، جز:13، جلد:7، صفحہ:130، حدیث:36856 ملخصًا۔
6... سبل الہدیٰ والرشاد، باب التاسع فی عرقہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وطیبہ، جلد:2، صفحہ:86 ملخصًا۔
7... حدائقِ بخشش، صفحہ:302۔

❀ د ژبې مبارکې نه چې به ئې بس څنګه خبره اووتله، څه چې به ئې فرمائيل، هم هغه به کيدل- يو ځل حضرت علي المرتضیٰ، شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عرض اوکړو: يَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! يخني مې کيږي، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړله: يا الله! د علي نه يخني او ګرمي لرې کړې- د هغې دُعا نه پس د مولا علي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا حالت شو چې نه به د هغوئي يخني کيدله، نه به ئې ګرمي کيدله، هغوئي به په ګرمئ کښې پيړې (ګرمې) جامې اچولې او په يخنئ کښې به ئې نرئ جامې اچولې- [1]

داسې که د نور نه د ډک مخ خبره اوکړے شي نو

| | |
|---|---|
| دیکھنے والے کہا کرتے ہیں اللہ! اللہ! | یاد آتا ہے خُدا دیکھ کے صُورت تیری[2] |

❀ بلکه دا خو د سراسر معجزې نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارک د پاکو اندامونو معجزې دي ❀ که چرې صِرف د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک نوم خبره اوکړے شي نو د پاک نوم **مُحَمَّد** داسې داسې برکتونه دي چې واه! سُبْحٰنَ الله! د بني اسرائيلو د 100 کالو ګنهګار چې د پاک نوم تعظيم (عزت) اوکړو، هغه ئې ښکل کړو او په سترګو ئې اوموښلو، رَبِّ کائنات د ده دا ادا دومره خوښه کړله چې د هغه د 100 کالو ګناهونه ئې معاف کړل او اوئې بخښلو [3] ❀ د روايتونو مطابق چې په کوم کور کښې چې د مُحَمَّد نوم والا څوک وي، په هغه کور کښې برکت وي [4] ❀ په يو حديثِ پاک کښې دي: څوک چې زما په محبت کښې، زما د نوم د برکت حاصلولو د پاره د خپل ځوي نوم مُحَمَّد کيږدي، هغه او د هغه ځوي به جنّت ته ځي- [5]

سُبْحٰنَ الله! اے عاشقانِ رَسُول! دا د سرکارِ عالي وقار، د مکې مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک بدن د يو څو معجزو لنډ بيان دے، حق خو دا دے چې

| | |
|---|---|
| زندگیاں ختم ہوئیں اور قلم ٹوٹ گئے | تیرے اَوصاف کا اِک باب بھی پورا نہ ہوا |

---

1...ابن ماجہ ، کتاب السنۃ ، باب فضل علی بن ابی طالب ، صفحہ:33 ، حدیث :117 بتغیر قلیل ۔
2...ذوقِ نعت، صفحہ:248۔
3... حلیۃ الاولیاء، جلد:4، صفحہ:45، حدیث:4695 ملخصًا۔
4...شرح الزرقانی، مقصد الرابع، فصل الرابع ما اختص بہ صَلَّی اللہُ عَلَیہِ وَآلہٖ وَسَلَّم، جلد:7، صفحہ:307۔
5...کنز العمال، کتاب النکاح ، جز:16 ، جلد:8، صفحہ:175، حدیث:45215۔

د سَیِّدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پشان د اوچتې مرتبې والا عالِمِ دین ټول عمر نعتونه اولیکل، په آخِر کښې ئې هم دا اوونیل:

تیرے تو وَصف عیبِ تَناہی سے ہیں بَری
حیراں ہُوں میرے شاہ میں کیا کیا کہوں تجھے (1)

**وضاحت:** یعني ختمیدل هم یو قِسم له عیب دے، یَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو صفتونه او کمالونه خو داسې دي چې "**د ختمیدو**" د عیب نه هم پاک دي، اے زما د کمال نه ډک آقا، بے مثاله آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه حیران یم چې ستاسو کوم کوم شان بیان کړم-

په یو ځائے کښې فرمائي:

اے رضا خود صاحِبِ قرآں ہے مَدَّاحِ حضور
تجھ سے کب ممکن ہے پھر مِدحت رسولُ اللہ کی (2)

د چا تعریفونه چې رَبِّ کائنات په قرآنِ پاک کښې فرمائي، د هغوئي د تعریف حق زمونږ پشان ادنیٰ غلامان څنګه ادا کولے شي--؟؟ بَس مونږ له دومره آرمان کول پکار دي چې الله پاک دې مونږ له د داسې عظیمُ الشَّان، بے مثله او بے مثاله، او د کمال نه د ډک آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رښتوني غلام، عمل کوونکي او شکر ویستونکي اُمَّتي جوړیدو توفیق راعطا کړي! کاش! چې په زړه کښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې ډیوې بَلې شي چې دنیا خو لا څه کړې چې قبر هم په دې ډیوه روښانه شي-

لحد میں عشقِ رُخِ شَہ کا داغ لے کے چلے | اندھیری رات سنی تھی، چراغ لے کے چلے (3)

**وضاحت:** اوریدلې مې دي چې د قبر شپه تیاره وي، نو ځکه مونږ په زړه کښې عشقِ رسول ځائے کړو، دغه هغه ډیوه ده، کومه چې به د قبر تیاره رڼا کړي-

## د جشنِ وِلادت (د زیږیدلو د ورځې خوشحالي) او د میلاد د جلوس په باره کښې مدني ګل

**اے عاشقانِ رَسُول!** سبا دولسم شریف دے- د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:175۔
2...حدائقِ بخشش، صفحہ:153۔
3...حدائقِ بخشش، صفحہ:369۔

جشنِ وِلادت دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! صحابۂ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان هم د خپل دور د تقاضو مطابق د ولادتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحالي اوکړه، په دې نعمت باندې ئې د الله پاک شکر ادا کړو بلکه پخپله به زمونږه آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم خپل جشنِ ولادت لمانځلو بلکه هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هر کال نه بلکه هره هفته يعني د هر ګل په ورځ روژه نيوله او خپل جشنِ ولادت به ئې لمانځلو۔

مونږ به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! ښه په ښکلې طريقه جشن ولادت لمانځو۔ د جشنِ ولادت په خوشحالئ کښې به ښه، ښکلې صفا ستهرا جامې هم اغوندو، تياريږو بـ او د ميلاد په جلوس کښې به هم شرکت کوو، **د آقا د راتللو نعرې** به هم وهو او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! دنيا ته به ښايو چې زمونږه د بے مثله بے مثاله آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جشنِ ولادت دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! مونږه په دې باندې د زړه نه خوشحاله هم يو او د رَبِّ کريم شکر ادا کوونکي هم يو۔

جشنِ میلادُ النّبی ہے کیوں نہ جھومیں آج ہم | مسکراتی ہیں بہاریں سب فضا پُرنُور ہے

## د جشنِ ولادت په خوشحالئ کښې روژه اونيسئ!

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! مونږه به په جلوس کښې هم شرکت کوو او د خپل آقا، کريم آقا، رحيم آقا، د مدينې والا د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا به ادا کوو او د جشنِ ولادت په خوشحالئ کښې به روژه هم نيسو۔ نفل روژه ده د چا نه چې کيدے شي، که طبيعت ئې ښه وي نو روژه لازمي نيول پکار ده۔ په حديثِ پاک کښې دي: چا چې د ثواب په طمع يوه نفلي روژه اونيوله، الله پاک به هغه د دوزخ نه د 40 کالو (د فاصلې برابر) لرې کړي۔ (1) د معجمِ کبير په روايت کښې دي: چا چې يوه نفلي روژه اونيوله، د هغه د پاره به په جنّت کښې يوه وَنه نالولے شي د کومې ميوه چې به د انار نه وړه او د منړې نه غټه وي، هغه به د شاتو پشان خوږه او ښکلې ذائقې والا وي، الله پاک به د قيامت په ورځ په روژه نيوونکي د دې وَنې ميوه خوري۔ (2)

## د ميلاد په جلوس کښې شرکت اوکړئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه ته به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! د ميلاد په جلوس کښې هم ښه پوره برخه اخستل پکاردى ❁ د ميلاد په جلوس کښې د ګاډو، موټر سائيکلو، پيدل په هر انداز کښې د پور تيارئ سره شرکت

[1] ...جمع الجوامع، جلد:7، صفحہ:190، حدیث:22251۔
[2] ...معجم کبیر، جلد:18، صفحہ:366، حدیث:935۔

اوکړے ❀ د میلاد په جلوس کښې د نظم و ضبط پوره خیال اوساتئ! ❀ د میلاد په جلوس کښې نعتونه او نعرې هغه وهئ کومې چې د پاکستان مشاورت آفس نه جاري کړے شي ❀ د میلاد په جلوس کښې د هر UC/وارډ/ټاؤن نګران او ذمه واران دې خپلې بینرې بیلې جوړې کړي په کومې چې دې د خپل UC/وارډ/ټاؤن نوم لیکلے شوے وي، مثلاً (اقبال ټاؤن، ګوجرانواله ستي) ❀ په 12 ربیعُ الاَوَّل د ماسپخین نه تر مازیګره پورې دې د میلاد په جلوس کښې ټول ذمه واران او د شعبه جاتو والا د **مرحبا یا مصطفٰے** نعرې وهي او د اوّل نه تر آخره پورې دې شرکت اوکړي ❀ د شعبې 2 اسلامي ورونړه دې د خپلې شعبې بینرې واخلي او مخکښې مخکښې دې ځي، د دې شعبې نور اسلامي ورونړه دې په هغوئي پسې شاته شاته په ښکته سرونو، د مدني جنډې اوچتولو، په شونډو باندې د نعتونو نغمې وائي او ډیر په ښه انداز کښې دې شرکت کوي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د لمونځ کولو فائدې او د نه کولو نقصانونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه جشنِ ولادت لمانځو هم او لمونځ ګزاره هم یو، لمونځ زمونږه د آقا، مدیني والا مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم د سترګو یخ والے دے، ځکه د لمونځونو پوره پابندي کوئ! په خاص طور سبا د میلاد شریف په مصروفیاتو کښې هم د لمونځ د وختونو پوره خیال اوساتئ! داسې نه وي چې د میلاد په خوشحالو لمانځلو کښې (مَعَاذَاللہ!) لمونځونه قضا کړو، ❀ لمونځ اَوَّلینه فریضه ده ❀ لمونځ د قبر د تیارې ډیوه ده ❀ لمونځ د قبر د عذاب نه بچ کول کوي ❀ لمونځ د قیامت په ګرمئ کښې سورے دے ❀ لمونځ د پلِ صراط د پاره آساني ده ❀ لمونځ د دوزخ د عذاب نه بچ کول کوي ❀ د لمونځ سره رَحمَت نازلیږي ❀ د لمونځ سره ګناهونه معاف کیږي ❀ لمونځ د دعاګانو د قبلیدو سبب دے ❀ لمونځ د بیمارو نه بچ کوي ❀ د لمونځ سره بدن ته آرام میلاویږي ❀ د لمونځ سره په رزق کښې برکت راځي ❀ لمونځ د بے حیائیئ او د بدو کارونو نه بچ کول کوي[1] ❀ او اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! لمونځ اللہ پاک او مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم ته نزدې کول کوي- اللہ پاک دې مونږ ټول ربښتوني او

---

1... فیضان نماز، صفحہ:10 ملتقطاً۔

پاخه لمونځ کوونکي جوړ کړي او رښتوني عاشقِ رسول، پاخه میلادي هم اوساتي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

ہر عبادت سے برتر عبادت نماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صحّت نماز
پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نماز
بھائیو! گر خدا کی رضا چاہئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز

## د قرآنِ کریم تلاوت کوئ---!!

اے عاشقانِ رَسُول! نن چې مونږه د چا جشنِ ولادت لمانځو په هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې قرآنِ کریم نازل شو، زمونږه خوږ آقا، د مکې مدینې مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د قرآنِ کریم ډیر زیات تلاوت کولو۔ په یو روایت کښې دي چې: زما د اُمَّت د ټولو نه غوره عبادت د قرآنِ پاک تلاوت دے۔ (1)

ځکه مونږ ته د قرآنِ کریم د زیات تلاوت کولو عادت هم جوړول پکار دي۔ د قرآنِ کریم تلاوت هم کوئ او د قرآنِ کریم په صحیح طریقه لوستل هم زده کړئ۔ د بده قسمته نن سبا ډیرو خلقو له د صحیح تجوید او مخارج سره د قرآنِ کریم لوستل هم نه ورځي۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! دعوتِ اسلامي د قرآنِ پاک د فیضان عام کولو دیني تحریک دے۔ د قرآنِ کریم په صحیح طریقه د لوستلو زده کولو د پاره د مدرسۃ المدینہ بالغان برکتونه حاصل کړئ! په مدرسۃ المدینہ بالغان کښې د لوئےعمر اسلامي ورونړو ته د تجوید سره د قرآنِ پاک لوستل ښودلے شي او د دې سره سره بنیادي ضروري حکمونه او مسئلې او سُنت او آداب هم ښودلے شي، تاسو هم په مدرسۃ المدینہ بالغان کښې شرکت اوکړئ او د تجوید سره د قرآنِ پاک لوستل زده کړئ۔

الٰہی خوب دے شوقِ قرآں کی تلاوت کا | شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت

## د مدني مذاکرې او مدني قافلې ترغیب

اے عاشقانِ رَسُول! په زړه کښې د عشقِ رسول زیاتولو، نیک جوړیدو او د ایمان د حفاظت ذهن جوړولو د

---

1 ...شُعَبُ الْاِیْمَان، باب: تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004۔

پاره د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ او د دعوتِ اسلامي په ديني کارونو کښې ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د نيکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدو ذهن به مو جوړ شي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د ماسخوتن د لمانځه نه پس په مدني چينل نيغ په نيغه مدني مذاکره فرمائي، په کومه کښې چې بے شميره عاشقانِ رسول عالمي مدني مرکز فيضان مدينه (کراچئ) ته حاضرېږي او د عِلمِ دين برکتونه حاصلوي- په زرګونو عاشقانِ رسول په خپلو ښارونو/علاقو کښې **اجتماعي طور د مدني مذاکرې** کتلو تابيا کوي او د **مدني چينل، سوشل ميډيا** (مثلاً يوټيوب، فيس بُک وغيره) په ذريعه باندې خو پته نه لګي چې په کوم کوم ځائے کښې مدني مذاکره کتلے شي، تاسو هم په مدني مذاکره کښې په پابندئ سره شرکت کوئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! عِلمِ دين به زده کړئ او د دين او دنيا بے شميره خير به مو نصيب شي-

په اوسني وخت کښې د نيک لمونځ ګزاره جوړيدو، د سُنّتو زده کولو او د دين پيغام عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول سره په مدني قافلو کښې سفر کول هم ډير ګټه ور کار دے- اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د 3 ورځو، 12 ورځو، يوې مياشت او 12 مياشتو مدني قافلې وخت په وخت سفر کوي- تاسو هم د مدني قافلو مُسافر جوړ شئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! اخلاق به مو ښه شي، د نيکو کولو رجحان به مو زيات شي، د عشقِ رسول دولت به مو نصيب شي او په ژوند کښې به مو مدني انقلاب راشي- راځئ چې! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو:

## د زړه حالت ئې بدل شو

د فيصل آباد (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې زه ډير د خراب کردار مالک وو- دروغ، غيبت، چغلي، د سترګو بد استعمال پشان ګناهونه زما د معمول حِصه وه، ما مارشل آرټ زده کړے وو د کوم په زور چې به ما د خلقو سره بر ناحقه جګړه کوله، هر نوے فيشن کول زما شوق وو، آه! د لمونځونو نه دومره لرې ووم چې ماته دا هم معلومه نه وه چې په کوم لمونځ کښې څومره رکعتونه وي- آخر د رحمت در برسيره شو او زما بخت داسې رابيدار شو چې د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق لرونکي يو اسلامي ورور ماته په مدني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، د دوست د

خبرې نه مې انکار نه شو کولے او د دریو ورځو د مدني قافلې مسافر جوړ شوم- په مدني قافله کښې د عاشقانِ رسول د صحبت په برکت ماته د ژوند مقصد معلوم شو، په خپلو ګناهونو پښیمانه شوم، زما د سترګو نه د غفلت پټۍ لرې شوې، د زړه حالت مې بدل شو، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې مې ژوند شروع کړو-

دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹلے
آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو
کر سفر آئیں گے، تو سُدھر جائیں گے
اب نہ سستی کریں، قافلے میں چلو[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مختلف ایپلي کیشنز پیژندګلو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي د جدید ټیکنالوجۍ په ذریعه د نیکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے- د دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ د لاندې اوسه پورې بے شمیره ایپلي کیشنز جوړ کړے شوي او لانچ کړے شوي دي: (1):تفسیر صِراطُ الجِنان موبائل ایپلي کیشن : د قرآنِ کریم لوستلو، په دې د پوهیدلو او د قرآنِ کریم د فیضان حاصلولو دپاره یو زبردست او ناشنا ایپلي کیشن دے- د دې په ذریعه قرآنِ پاک د ترجمې او تفسیر سره لوستلے شي او د قرآنِ پاک په نور خپله سینه روښانه کیدے شي- (2): فیضانِ حدیث موبائل ایپلي کیشن: ډیر ښکلے ایپلي کیشن دے، د دې په ذریعه تاسو د خپل خوږ آقا، د مکې مدینې د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حدیثونه او د هغې شرح لوستلے شئ- اوس په دې ایپلي کیشن کښې د حدیثِ پاک د مشهور کتاب مِشْکٰوۃُ الْمَصَابِیْح او د دې آسانه اُردو شرح مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیْح شامله کړے شوې ده، ډیر زر به په دې کښې د حدیثِ پاک نور کتابونه هم شامل کړے شي- د دې ایپلي کیشن په مرستې سره تاسو احادیث مبارک په کتابي شکل کښې (یعني د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم چې ستاسو کومه موضوع خوښه شي لوستلے شئ، په دې ایپلي کیشن کښې سرچ آپشن (یعني د لټولو آپشن) هم موجود دے، د کوم په ذریعه چې د هر یو حدیث او د هغې شرح لټولے شئ- (3):بهارِ شریعت موبائل ایپلي کیشن : د

---

[1] ...وسائل بخشش، صفحہ:669-672۔

دې ايپلي کيشن په ذريعه ديني مسئلې لوستلے او زده کيدے شي **مولانا الياس قادري موبائل ايپلي کيشن**: د دې ايپلي کيشن په ذريعه تاسو د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د لنډې پيژندګلو نه څان خبرولے شئ ❁ په خوندورو موضوعاتو باندې مشتمل ***Category wise*** د مدني مذاکرو سوالونه او جوابونه ❁ د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ آفيشل سوشل نيټ ورک اکاؤنټ-

## د ټيلي تهون ترغيب

اے عاشقانِ رَسُول! اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د دعوتِ اسلامي ديني کار د 80 نه په زياتو شعبو کښې خور شوے دے ❁ دعوتِ اسلامي اوسه پورې په زرګونو ځماتونه جوړ کړي دي ❁ د قرآنِ پاک د تعليم فيضان عام کولو د پاره ئې په زرګونو مدرسة المدينه جوړې کړې دي ❁ د عِلمِ دين د فيضان عام کولو د پاره ئې په زرګونو **جامعة المدينه** جوړې کړې دي ❁ په لکونو حافظانو، قاريانو، امامانو، مبلغانو او معلّمانو، عالمانو او مفتيانو تيارولو سره د اُمَّت د اصلاح او کردار سازئ کار روان دے، په لکونو عاشقانِ رسول (اسلامي ورونړه او اسلامي خوئيندې) په دې مدني مقصد کښې **(ماته د خپل ځان او د ټولې دنيا د خلقو د اصلاح کولو کوشش کول دي)** حاصلولو په کوشش کښې لګيا دي ❁ بے شميره دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت په شرعي لارښودنه کولو کښې مصروف دي ❁ په *المدینۃُ العلمیہ* (***Islamic Research Center***) کښې په مختلفو موضوعاتو باندې بے شميره ديني کتابونه چاپ کړے شوي دي ❁ فيضان آن لائن اکيډمي (بوائز & ګرلز) جوړ دي د کومو په ذريعه چې آن لائن عالم کورس، د قرآنِ پاک حفظ کولے شي او ناظره ښودلے شي، خلقو ته په خپلو کورونو کښې د عِلمِ دين رڼرا رسولے کيږي ❁ انګلش ميډيم اسلامِک سکولنګ سسټم د **دارُ المدينه** په نوم سره جوړ کړے شوی دی د کوم په ذريعه چې په زرګونو هلکان او جينکئ ماشوماني ديني او دنيائي علوم حاصلوي ❁ د **مدني چينل** په ذريعه په 6 سيټلائټس باندې په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې د دين ښه خدمت کولے شي ❁ د ***FGRF*** په ذريعه باندې د خير ښيګړې او د سماجي خدماتو سلسله روانه ده او د خوږ آقا، د مديني والا د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غم ځپلي اُمَّت په مختلفو سختو وختونو کښې د 26 لاکهو نه د زياتو کورَنو مرسته شوې ده، په دې حالاتو کښې خاص طور په تهيليسيميا (***Thalassemia***) او عام طور د نورو مريضانو د پاره د وينې د بيګونو (***Blood Bags***) جمع کولو داسې کارنامه ترسره کړے شوې ده د کومې چې مثال نشته- راځئ! چې مونږه هم په شريکه د نيکئ د دعوت عام

کولو په دې عظيم کار کښې د دعوتِ اسلامي ملاتړ اوکړو-

اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! په 13 نومبر کال 2022ء د اتوار په ورځ به ټيلي تهون (د چندې/**Donation** جمع کولو د مهم) سلسله وي- د پاکستان د کرنسۍ مطابق به 1 يونټ د 10 زرو روپو وي، تاسو هم د *مدرسة المدينه* او *جامعة المدينه* د شريکو خرچونو د پاره د خپلو صدقو په ذريعه مرسته اوکړئ- خپلو مَرو (حق رسيدلو) ته د ايصالِ ثواب د پاره يونټس جمع کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ- د يونټ جمع کولو خپل يو هدف جوړ کړئ او د اوس نه د دې د پاره رابطې شروع کړئ- الله پاک دې مونږ ټولو ته د نيکو په کارونو کښې د پوره برخې اخستو توفيق رانصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں | اے دعوتِ اسلامی تری دھوم مچی ہو! |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ

چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي- [1]

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ګيره پريښودل (ساتل) د مصطفٰے ﷺ سُنَّت دي

**د مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک**: بريت کټ کړئ او ګيرې اوږدې کړئ د مجوسيانو مخالفت

[1] ... مشکوٰۃ، کتاب: الایمان، باب: الاعتصام، جلد: 1، صفحہ: 55، حدیث: 175-

اوکړئ! [1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ګیره پریښودل (ساتل) د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي بلکه د ټولو انبیائے کرامو سُنَّت دي ❁ زمونږه د خوږ آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه به همیشه د یو موټي په مقدار وه ❁ که چرې د یو موټي نه به غټه شوه نو کموله به ئې ❁ د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه په پلَن والي کښې داسې وه چې سینه مبارکه به ئې ډَکه ساتله۔ [2]

❁ زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم به ګیره خریل او بریت غټول بالکل نه خوښول ❁ په بهارِ شریعت کښې دي: ګیره خریل یا د یو موټي نه کمه ساتل حرام دي۔ [3]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه **د بهارِ شریعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلہٖ وَسَلَّم

---

1... مسلم، کتابُ الطہارت، باب: خِصَالُ الفِطرة، صفحہ: 153، حدیث: 257۔
2... انوارِ جمالِ مصطفٰے، صفحہ: 157 خلاصةً۔
3... بہارِ شریعت، حصہ: 16، جلد: 2، صفحہ: 586۔